DAILY
اراده
دافغان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپاڼه

سال ششم شماره ۹۷
شماره مسلسل ۹۶۴
یکشنبه ۶ حمل ۱۳۸۵هش
۲۵صفرالمظفر ۱۴۲۷ هـ ق
26 March, 2006

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER AMRC

فهرست اعضای کابینه وواکنش نماینده گان ولسی جرگه



نمایندگان ولسی جرگه در نشست دیروزی شان واکنش های‌همگون در مورد فهرست اعضای کابینه پیشنهادی رئیس جمهور داشتند. به باور انان اعضای کابینه پیشنهادی از توانایهای لازم برای اجرای برنامه های دوباره سازی افغانستان برخوردار نیستند. نمایندگان میگویند که مقامات دولت علی الرغم درخواست انان برای اعلام شمار اصلی وزارتها پیش از تهیه فهرست جدید کابینه خواست قانونی ولسی جرگه را در نظر نگرفته اند و انتقاد های گوناگون در مورد کابینه پیشنهادی رئیس جمهور در ولسی جرگه ابراز شد. شماری از نمایندگان از حضور کم رنگ زنان در ترکیب کابینه کنونی ابراز نگرانی کرده اند و خواهان راه یافتن حد اقل ۴ زن در کابینه و دو زن در شورای عالی قضا بوده اند. ص۴

پکتیکا ته نوی والی ولیږل شو

د هیواد په سهیل ختیځ کې پکتیکا ولایت ته نوی والی ولیږل شو. اکرام خپلواک دپخوانی والی ګلاب منګل پر ځای کار کوی. دغې ولایت ته نوی والی په داسې حال کې لیږل کیږي چې ځومودې وړاندې ددې ولایت یو شمیر خلکو د پخوانی والی ګلاب منګل پر ضد او په طرفداری لاریونونه کړی وو چې ځینو یې دګلاب منګل لرې کول غوښتل او ځینو یې پر ځای پاتې کیدل غوښتل او اوس یې پر ځای داکتر محمد اکرام خپلواک چې ۲۵ کلن دی دوالی په صفت ور ولیږل شو. اکرام خپلواک په تیرې پارلمانی ټاکنو کې پاتې کاندید او دافغانی ځوانانو غړیتوب هم لري خو که څه هم په دې سیمه کې ډیر ځوانانو بې روزګاره ګرځی نو معلومه به شی چې ځومره ځوانانو ته روزګار پیدا کولی شي.

ماموریت سازمان ملل متحد در کشور تمدید گردید

ماموریت سازمان ملل متحد در کشور که روز گذشته به پایان رسید برای دوازده ماه دیگر ازسوی شورای امنیت سازمان ملل متحد تمدید گردید این تصمیم به پیشنهاد کوفی عنان سرمنشی سازمان ملل متحد گرفته شد ص۴

سرمقاله

ملی شورا دیو ستر ازمایښت په وړاندې

له اوږدو جګړې پیزو کلونو وروسته موږ دلومړی ځل لپاره دیو داسې پارلمان درلودونکی شوو چې داولس له خوا له زیاتو انتقادونو سره سره دیو بل ستر ازمایښت سره مخامخ شوی دی او هغه دولسمشر حامد کرزی له خوا دنوی کابینې لپاره دباور درایو ورکول او یا ردول دی.

دولسمشر حامد کرزی په وړاندې شوی لست کې څنې هغه پخوانی وزیران هم شته چې هغوی تر اوسه پورې کاری وړتیا په خپل اړوند وزارت نه ده ښودلې په خپل وزارت کې یې دکارونو دشفافیت اوقانونیت درامنځته کولو او نورو اداری فسادونو په له منځه وړلو او مسلکی مسوولینو ته ددندو په سپارلو کې پاتی راغلی دی او یوازې یې شپې تیرې کړی او ځینې داسې نومونه په دې لست کې رامنځته شوی دی چې له نومونو او کړنو په هکله یې څوک خبرتیا نه لري له پورتنیو دوو نیمګړتیاوو سره سره دولسمشر له خوا وړاندې شوی لست دمسلکی توب پر ځای زیات په سیاسی تکیه باندې استوار پاتې شوی دی.

اوس په داسې حالاتو او شرایطو کې دپارلمان غړی په دوه لاری کې ولاړ دی که چیرې دولسمشر کرزی کابینې ته د بیلابیلو اړیکو او ارتباطاتو پر بنسټ دباور رایه ورکوی داولس له خوا په دوی شوی اعتبار له لاسه ورکوی له خلکو سره یې اړیکې او باور کمزوری کیږي او که چیرې دپارلمان دغړو او استازو په توګه خپله دنده سرته رسوی دخپلو سیاسی اړیکو په لړ یې کمزوری کیږي او دځینو په اند دمصلحت رنګ په کې له منځه ځی.

نو اوس دپارلمان په غړو ده چې په کوم لوري حرکت غوره کوی. دخلکو په وړاندې په کمپاینونو کې خپلې ژمنې سرته رسوی او که خپل باور له لاسه ورکوی.

تدویر کنفرانس خبری پیرامون ترکیب کابینه

مسولان نهاد موسوم به کمیته مشارکت سیاسی زنان افغانستان دیروز با برگذاری کنفرانس خبری در کابل نظارت خود را در خصوص ترکیب کابینه پیشنهادی رئیس جمهور و اعضای ستره محکمه این کشور ابراز نمودند ص۴

په هلمند کې یو سرتیری وژل شو

په افغانستان کې دتروریزم پر ضد دائتلافی ځواکونو سرتیرو په یوه خپره شوی اعلامیه کې ویلی دی چې دهلمند په ولایت کې یو سرتیری دعملیاتو پر مهال وژل شوی دی. ۴ مخ

د اروښاد عتیق الله پژواک لنډه پیژندنه



اروښاد عتیق الله پژواک دهیواد دښو لیکوالو او ژورنالستانو له ډلې و چې دزده کړې له پای ته رسولو څخه وروسته یې په بیلابیلو دولتی او شخصی دندو کې په پوره ریښتینولی سره دندې سرته رسولی دی.

مرحوم پژواک دهجرت په وختونو کې دتفاهم د جریدې دمسوول مدیر او د ارادې جریدې دلومړی مسوول په توګه دنده سرته رسولې ده.

اروښاد د ۱۳۸۴ کال دحوت په ۱۴ نیټه په پښور کې دهغې ناروغی له امله چې ورپښه شوې وه له نړی سترګې پټې کړی ۴مخ

کشف ذخیره گاه اسلحه

یک ذخیره گاه بزرگ سلاح و مهمات در ولسوالی رباط سنگین ولایت هرات توسط موظفین امنیت ان ولایت کشف و ضبط گردید به گفته رئیس اوپراتیفی زون غرب سلاح و مهمات یاد شده بمنظور حملات خرابکار انه در یک مخفی گاه جابجا شده بود.

عودت کننده گان شکایت دارند

شماری از عودت کنندگان به کشور دیروز با گرد امدن در برابر ریاست عودت مهاجرین در کابل بخاطر اینکه آن ریاست هنوز در زمینه توزیع زمین به انان اقدام نکرده است اعتراض کرده اند. به گفته انان باجود اینکه از سوی این ریاست نام های شان در فهرست مستقیم دریافت زمین درج شده است زمین به انان داده نشده است. اما رئیس عودت مهاجرین کابل میگویند که بنابر مشکلات که این ریاست دارد مجبور است تا در نوبت های مختلف به توزیع زمین بپردازد.

مین 'چهار و نیم میلیون' افغان را تهدید می کند

یک اداره مین روبی از دولت خواسته است تا تعهدات اوتاوا مبنی بر از بین بردن تمام ذخایر مین را جدی بگیرد.

افغانستان در سال ۲۰۰۲ میلادی موافقتنامه اوتاوا برای منع تولید و استفاده از مینهای ضدنفر را امضا کرد. مسئولان این اداره در یک نشست خبری به مناسبت روز جهانی مبارزه با مین، اعلام کردند که هنوز چهار و نیم میلیون افغان با تهدید مین روبرو هستند.

اداره بین المللی مین روبی (MDC) اعلام کرد که وجود مین ها در افغانستان مانع جدی برای بازسازی این کشور محسوب می شود. مسئولان این اداره می گویند بر اساس تعهدات اوتاوا دولت افغانستان باید تا سال ۲۰۰۷ میلادی تمام انبارهای مین را در این کشور در اختیار سازمان های مین روبی قرار دهد. ص۴

له زیات انتظار او انتقادونو وروسته ولسمشر حامد کرزی د خپلی کابینی لست پارلمان ته د باور د رایی د اخیستلو په خاطر وړاندی کړ.

د ارادی ورځپاڼی خبریال د راتلونکی کابینی په هکله د ښوونی او روزنی د معین او د هیواد د سیاسی حالاتو د څیړونکی محمد صدیق پتمن سره په لنډ ډول څو پوښتنی طرحه او د هغه نظر یې غوښتی دی چې ځوابونو ته یې د گرانو لوستونکو پاملرنه رااړوو.

پوښتنه: ولسمشر کرزی پارلمان ته دخپلی کابینی لست ورکړی دی او نومونه د خبری رسنیو له خوا خپاره شول په دوی کې داسی وزیران شته چې د خپل وزارت په وخت یې کاری وړتیا باندی د هیواد والو له خوا زیات انتقادونه دی ایا ستاسو په نظر که چیری د باور رایی تر لاسه کړی هماغه ناخوالی او نیمگړتیاوی به بیا هم په ځای پاتی نشی؟

ځواب: تر اوسه پوری پدی څلورو کلونو کې دا وزیران پدی مطمین نه وو چې دا د څو کلونو لپاره پاتی کیږی اوسنی کابینه به یوه مستقله کابینه وی او په ضمن کې به دحساب د هی لپاره یو پروسیجر منځته راځی مثلاً تاسو ته معلومه ده چې په څلورو کلونو چې تیر شول په افغانستان پخپله اجرائیه قوی د مقننی قوی رول درلود یعنی د وزیرانو شورا هم د پارلمان چاری پر مخ بیولی او هم یې پخپله د اجرائیه قوی چاری پر مخ بیولی.

پوښتنه: د نوی راتلونکی کابینی د کاری اجراتو په هکله ستاسو نظر باندی غواړو پوه شو؟

ځواب: تر دی وروسته د وزیرانو شورا مقننه قوه نه ده یعنی بل چا ته ځواب ورکوونکی ده علاوه لدی چې د اجرائیه قوی د رییس په توگه رئیس جمهور ورنه پوښتنه کولی شی پارلمان هم تری پوښتنه کولای شی او بل یو وزیر د څلورو کلونو لپاره راځی حد اقل د څلورو کلونو لپاره نو حد اعظم د دوه دیرشو کلونو لپاره وزارت ته ځای په ځای کیږی.

دا ډیره ښه خبره ده هم سیاست دی اوهم مسلك دی اما تاسو پوهیږی په ټوله دنیا کې چې انتخابات گټی په انتخاباتو مسلکی خلك پارلمان ته نه راځی دا یوازی زمونږ خبره نه ده چې مونږ په افغانستان کې پارلمان لرو د سیمی هیوادونه تاسو وگوری صدراعظم کوشش کوی چې مسلکی سړی وی اما اکثر پوستونه په پارلمانی نظامونو او ریاستی نظامونو کې سیاسی وی پرته له څو وزیرانو څخه چې هغه له رئیس جمهور سره ډیری نږدی اړیکی لری نو پدی کابینه تر ډیره حده مسلك شته ما دا مخکی وویل تر ۸۵ تر ۹۰ فیصد پوری نو ۲۰ % به داسی وی چې مسلك به په پام کې نه وی نیول شوی.

پوښتنه: داسی انتقادونه هم وجود لری چې پدی نوی راتلونکی کابینه کې هم د مصلحتونو رنگ وجود لری تاسو په دی هکله څه ویلای شی؟

ځواب: که سیاسی مصلحت په کې وی او هغه د سیاسی استحکام په خاطر هغه هم زه فکر کوم کولای شی د لاندی ارزیابی کولای شي؟

ځواب: د کرزی صاحب معرفی شوی کابینه هغه پخوانی کابینه چې اوس تری خلك سر ټکوی او دا هغه کابینه ده چې یو ځل تجربه شوې، لکه چې وایې(ازموده را بار دیگر ازمودن خطاست) پدی که هیڅ شك نشته چې په دغی کابینه کې یو شمیر تجربه لرونکی خلك هم شامل دی، خو پدی برخه پارلمان باید ښه سوچ وکړی او د هر وزیر د تیر خدمت په برخه کې هر راز معلومات راغونډ او وروسته له هغه تصمیم ونیسی ، دا د پارلمان مکلفیت دی چې داسی قوی او سپیڅلی کابینه تائید کړی چې خلکو ته هم د خدمت جوگه شی او هم د ملت په گټه له خپلو شخصی گټو څخه تیر شی او د خلکو روا غوښتنو ته د عملی جامی ور واغوندی.

پوښتنه: که چیری د لست له مخی اوسنی کابینه د اعتماد رایه تر لاسه کړی ایا د وزارتونو په مربوطاتو کې به اوسنی پرتی نیمگړتیاوی له منځه لاړی شي؟

جواب: که چیری اوسنی کاندید وزیران ومنل شی نو دا څرگنده ده چې په دولتی ادارو کې به هماغه پخوانی ستونزی موجودی وی او د کابینی غړی به پخپلو شخصی گټو ته متوجه وی او دغه سرټکونی به دوام وموميٰ.

پوښتنه : ځینی پدی اند دی چې د کابینی اوسنی لست د مصلحت له مخی رامنځته شوی دی ستاسو نظر پدی هکله څه دی؟

ځواب: خلك پدی باندی ښه پوهیږی چې تیره کابینه یوه مصلحتی کابینه وه چې د ځینو شخصی سلیقو په اساس او دځینی مجبوریتونو له امله جوړه شوی وه، لکه چې مخکی مو وویل یو شمیر کاری خلکو پدغه کابینه کې ګډون درلود چې هغه یو دوه ترینه بیل شول او اوس یو ډیر کم شمیر کسان په کې شامل دی چې د خلکو په ګټو کار کوی او د خلکو د هیلو په پوره کولو کې ځان مکلف بولي، زما په فکر پارلمان ښه پوهیږی چې پدی برخه کې څه وکړی ځکه چې پارلمان د خلکو څخه پورته شوی او دخلکو استازی پدی پارلمان کې ګډون لری، دوی د خلکو دهیلو او غوښتنو څخه خبر دی. ځکه چې د پرگنو څخه اوچت شوی خو که څوك زړه سوی ولری او کله چې مخکی مو وویل که د خلکو هیلو او ارزوگانو ته نظر واچول

د پامیر جریدی مسوول سکرتر محمد اسحاق صمدی د راتلونکی کابینی په باره کې د ورځپاڼی خبریال ته خپل نظر په لاندی توگه څرگندوي.

شی او پدی وران او ویجاړ هیواد باندی رحم وکړی او تیری تجربی هیری نکړی نو باید داسی یوه قوی کابینه جوړه کړی چې په څو راتلوونکی کلونو کې دغه ویجاړ هیواد بیرته په پښو ودریږی او خلکو ته د کار زمینه برابره شی.

پوښتنه: وایې چې پدی لست کې ډیر کسان مسلکی نه دی، که د باور رایی تر لاسه ی ستونزی به په خپل حال پاتی شی پدی هکله که ستاسو په نظر پوه شو ښه به وې

ځواب : دا خو سمه خبره ده چې په دغی کابینه کې یو شمیر کسان غیر مسلکی هم دی. اما باید هیر نکړو چې ځینی مسلکی کسان هم په کې شامل دی چې کیدای شی خپل مکلفیت او دندی په ښه توگه سرته ورسوی، خو لازمه ده چې داسی کسان پدغه کابینه کې ومنل شی چې د کار ښه اهلیت ولری او که د تیر په شان کابینه مصلحتی او سلیقه یی وی نو هرومرو به تیری ستونزی موجود وی.

ښه کابینه هغه کابینه ده چې د خلکو روا غوښتونو ته سر ټیټ کړی او دخپل وزارت په اولیتونو ښه پوه شی او پدی باندی پوه شی چې کوم کار ته د لومړیتوب حق ورکړشی زه پدی عقیده یم چې زمونږ پارلمان پدی برخه کې د انصاف تله په لاس کې لری او نه غواړی چې تیری ناخوالی یو ځل بیا تکرار شی او هم دا د خلکو هیله ده چې پارلمان باید پدی برخه کې ښه فکر وکړی او ښه کابینه به ومنی.

متصدی: ناصر بشر

راتلونکی د ځوانانو ده

دولت او کورنۍ باید دځوانانو راتلونکی برخلیک وټاکی

په وروسته پاتو ټولنو کې ځوانـه دخپلې اجتماعی ژوند کې د ځوانانو ونډه ډیره لږه ده او دا ستونزه یوازې زموږ په هیواد پورې اړه نلري بلکې نړۍ وال بڼه لري. د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام د ۲۰۰۲ کال د راپور له مخې د نړۍ د ۱۸ سلنه وګړي د ۱۵ او ۲۴ کلونو ترمنځ عمر لري چې ۸۵ سلنه یې په پرمختګ کونکو هیوادونو کې ژوند کوي. د ملګرو ملتونو د ځوانانو د پراختیا د ادارې د ۲۰۰۳

څه ليدلي څه اوريدلي

اشرف

زمونږ يو دوست و خداى د ژوندى لري د هغه مينه له عرفانى خوا سره دومره نه وه خو مادیات يى تر نورو ډير خوښيدل هغه شپه او ورځ سرګردانه و چې څوك واسطه کړى او ځان چيرى په کوم لوړ پوست کې مقرر کړى چې دکوم ځوکى لپاره به يى هڅه کوله د هغى بيلا بيلى ګټى به يې مخکى له مخکى څخه شميرلى وى او د ملا نصر الدين چرګه به يې په خيال کې جوړه کړى وه.

هغه يوازى دانه د خپلى مسلك مطابق به يې د ځوکى د لاسته راوړلو لپاره هڅه کوله ، خبره داسى نه وه هغه ته هر وزارت او رياست بى توپيره و خو مقصد چې هغه د مسوولیت ځوکى ته رسيدلى واى ان چې د معاونيت لپاره يې هم زړه نه ښه کولو.

هغه يوه ورځ زمونږ د هيواد د شرايطو او حالاتو په درك سره يوه خبره وکړه او زما دى زړه ته هم پريوته.

منګوټو برابريدل هم د اوس په شرايطو کې څه اسانه خبره نه ده پدى کې د ارټ د څښتن او او تر هغه وړاندى د کلالى نيت شرط دى او دا کار هغه وخت تر لاسه کولاى شى چې مربى ولرى تاسو به هغه متل اوريدلى وى چې مربى لري نو مريا به خوري اوس خو ټوله د مربى او مربا به خورى اوس خو ټوله د مربى او مربا خبره ده نو هغه زما دوست چې د ملا نصرالدين په خير ټوله شپه په زړه کريبى اوريبى له زياو منډو ترړو خوراکى ستومانه خو کيداى شى د ارټ په څرخ د تاويدو هيله ځان سره خاورو ته يوسي خو خبره مى د ارټ د منګوټو کولو د وروسته پاتى ټولنى دا مسوولیت ځوکى يې ونيوله نو بس نوره د هغه خولې په غوږو کې شوه يا به يې ځوکى ميراثى وى او که بالفرض انتقادونه پرى وکړى لږ شى نو له هغه ځايه به تبديل شى بل ځاى کې به تر هغه لوړه ځوکى ورکړل شي او يا به تر هغى لوړه ځوکى کې د خدمت جوګه شي.

ځانګړتياوى او چې لا جګړو هم ځپلى وى او جګړى په کې روانى وى او بى شميره ګوندونه د خدمت لپاره ټپرونه ووهى نو يقينى خبره ده چې پداسې ټولنه کې به خامخا د ارټ د منګوټو مثال د انسان ذهن ته ورځى مونږ دا څو کاله په هيواد کې ګورو چې يو ځل څو چا سره بخت يارى وکړه او د ځلور کاله وشول چې د همدغو ښاغلو په بدليدلو را بدليدلو کې د خلکو په معيشت هيڅ بدلون رامنځته نشو بى قانونې ، ادارى فسادونه ، بيکارى ، رشوتونه، اختلاس، قيمتى او بى کورى ښه په اوج کې روانه ده ټول مسوول او غير مسوول يې ګورى يو څوك په کور نه نشو يو چاته سزا ورنه کړل شوه په هيڅا قانون تطبيق نشو بر خلاف ټول په خپلو ورسپارلو شوو دندو کې بريالى روان دى دا ځکه چې ارټ تاويږى.

خداى د وکړى چې زمونږ مشران او مسوولين دغه ارټ يوازى د څو کسو لپاره نه بلکې سراسرى کړى هغه چې تش تاويږى هغه له نظره تير کړى دغه څرخ ودروى يو نوى نظر پرى وکړى لږ تر لږه يې بايد د ورځى يو يو ځل وګورى هغه چې تش تاويږى ليرى او په ځاى مناسب وارچوى چې تاويدل په ګټه تمام شى.

ملى شورا يا د ملت کور دا ګز او دا ميدان

د بن د پريکړي وزير ويلي: په شپږو مياشتو کې څه نه کيږي.

د مينځمهالى کابينى وزير ويلي: نړيوال د تروريزم په ضد جګړه کې دى هر څومره چې ځان مړوى شي مړوه يې که نه بيلګه يې شيرپور.

د منتخبى کابينى وزير ويلي: معلومه نه ده چې ولسى جرګه مو تائيدوى يا نه شپې او ورځې دى تيري کړه.

د ولسمشر وړاندیز او د ولسى جرګې د تائيد د کابينې غړي وايى:

دا ګز او دا ميدان د ولسي جرګې دغړو واقعى استازيتوب به معلوميږى.

د اروانښاد عتيق الله پژواك..

او جنازه يې دننګرهار دسره رود باغوانيو ته راوړل شوه اوپه پلرنى هديره کې خاورو ته ورسپارل شو.

لازمه بولو چې دارادې ورځپانې په دې ګڼه کې دارواښاد په ژوندليك باندې لږ څه رڼا واچوو.

مرحوم عتيق الله پژواك دقاضى عبدالله خان ځوى دملا شير جان اخوندزاده لمسى او په قام معروف خيل او دخوګيانو ولسوالى په کړه کې زيږيدلى او ثانوي زده کړې دحبيبې له عالى ليسه کې کړى او دکابل پوهنتون د ادبياتو د پوهنځى دلومړى دورې فارغ دى.

ماموريتونه:

څلور کاله معلمى په غازى ليسه، دشرعيه علومو مدرسه(دابو حنيفى مدرسه) په پغمان کې او دننګرهار په ليسه کې.

دمطبوعاتو دمستقل رياست خارجى نشراتو د مراقبت مدير.

دافغانستان دتاريخ په انجمن کې د (آريانا) دتاريخى مجلې مسوول مدير او دانجمن غړى.

دپوهنې په وزارت کې: دتاليف او ترجمې درياست کفيل

داتو کلونو دپاره دپوهنې دوزارت نماينده په تهران کې

دپوهنې دمطبعى رئيس او هم:

دفرانکلين دبين المللى نشراتو دموسسې رئيس په افغانستان کې(۱۹۶۲-۱۹۷۳)

دمهاجرت په دوره کې داکثرو سياسى او ثقافتى ملى شوراګانو او بنيادونو سره همکارى

د افغانستان د تفاهم او ملى وحدت د شورا او د دى شورا دموسسينو دهيات غړى

دتفاهم دجريدې مسوول مدير د ارادې دجريدې لومړى مسوول مدير ترهغې چې کابل ته منتقله شوه

دپينبور نه داضطرارى لوى جرګې غړيتوب يې هم په نصيب شوى دى.

په هلمند کې يو...

په اعلاميه کې داهم راغلى دى چې په دغه عمليات کې يو افغان او يو امريکايى سرتيرى ټپيان شوى هم دى. اعلاميه ليکى دا مرګ ژوبله پرون هغه وخت رامنځته شوه کله چې افغان او امريکايى ځواکونو په ګډه دهلمند په سنګين ولسوالى کې عمليات درلودلې. په هيواد کې دامريکايى ځواکونو قوماندان دخپل مړه سرتيرى له کورنۍ سره غمرازى وښودله او زياته يې کړه چې دوى به دسنګين په ولسوالى کې دطالب جنګيالو پر ضد خپلو عملياتو نه دوام ورکړى.

اعلان فاتحه

زمرك پژواك پسر، خانواده پژواك ، عبيدى ، لطيف زى ، شفيق زى، معروف، خانزاده ، مجاهدزاده، آخوند زاده واستانكزى نسبت وفات مرحوم عتيق الله پژواك سابق رئيس مطبعه معارف و موسسه بين المللى انتشارات فرانكلين كه جنازه قبلاً در قريه باغبانى ولسوالى سرخرود ولايت ننگرهار به خاك سپرده شده به اطلاع دوستان ميرساند. كه فاتحه مردانه بروز يكشنبه مورخ ۶ حمل ۱۳۸۵هـ ش از ساعت ۱:۳۰ الى ۳:۳۰ بعد از ظهر درمسجد جامع شيرپور واقع چهار راهى حاجى يعقوب ، شهر نو كابل صرف براى يكروز گرفته ميشود دوستان مطلع باشند.

تدوير کنفرانس خبرى...

انجاينكه مسولان اين نهاد گفتند انان اين كنفرانس رابصورت مشترك با كميسون مستقل حقوق بشر اين كشور در تالار جامعه مدنى افغانستان برگذار كردند. قبلاً شمار از اعضاى كميسيون مشاركت سياسى زنان افغانستان از رئيس جمهور كرزى انتقاد كرده اند كه به زنان در كابينه جديد نقش كمترى قايل گرديده است در كابينه پيشنهادى رئيس جمهور يک زن به عنوان وزير امور زنان معرفى شده است. انجمن قضات زن نيز خواهان حضور زنان در تركيب اعضاى ستره محكه اين كشور گرديده بود.

ماموريت سازمان ملل...

تمديد ماموريت هئيت نمايندگى از سازمان ملل متحد در افغانستان با يوناما بروز پنجشنبه گذشته از شورای امنيت سازمان ملل صورت گرفت. اقاى عنان پيش از ين ضمن ارايه گزارش به اين شورا نامنى و نقض حقوق بشر را در افغانستن چالش های عمده خوانده بود و از ين شورا خواستار تمديد فعاليت های سازمان ملل در افغانستان شده بود. شورای امنيت سازمان ملل ازتمام احزاب و گروه های سياسى در افغانستان خواسته است تا برای تامين صلح و بازسازی بيشتر از پيش تلاش بخرچ دهند.

مين چهارو نيم ميليون...

مسئولان اين اداره هشدار می دهند كه در غير اين صورت مقامات دولت افغانستان در برابر جامعه جهانی پاسخگو خواهند بود.

فهرست اعضای...

اما در مقابل شماری ديگر از نمايندگان ميگفتند كه به پيروی از فقه حنفی زنان نميتوانند در شورای عالی قضا راه بيابند. موضوع خلای قدرت از زمان اعلان كابينه پيشنهاد شده تادادن رای اعتماد به وزيران هم از نكات عمده مورد بحث اعضای ولسی جرگه بود. به باور شماری ازانان بايد درعوض وزيران تازمان گرفتن رای اعتماد معاونان وزارت خانه ها به حيث سرپرست تعين شوند. تعين مشاورت ارشد از طرف رئيس جمهور را نمايندگان در تناقض به قانون اساسی خواندند و گفتند كه اين مشاورت ميتواند صلاحيت های معاونين رئيس جمهور را محدود سازد انان فيصله نمودند تا پيش از صورت گرفتن رای اعتماد به وزيران بايد اسناد تحصيلی اسناد شهروندی و سابقه كاری وزيران پيشنهاد شده از طرف دولت به ولسی جرگه داده شود.

ERADA Daily

اراده در ويرايش و پيرايش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مينه (ايستگاه سينمای بهارستان سرک مسجد حاجی مير احمد خانه نمبر۹۵)
تيلفون موبايل : ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

اراده
زيرنظرهيات تحريرانتشار ميباشد
موسس وصاحب امتياز: حاجی سيد داؤد
مدير مسوول : سهراب ديدار

روزنامه آزاد وملی نشريه مركزنشراتی افغان
انديشه وعقايد مطرح شده ازسوی نويسنده گان به خودشان مربوط است
كمپوز و ديزاين: صديق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"
چاپ: مطبعه مركزنشراتی افغان

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com
قيمت يك شماره ۳ افغانی